دا یوه تیره ده چې اویا کاله مخکې دوزخ ته ورګوزاره شوې وه، نو دا دی اوس په اور کې غورځیږي تر دې چې بیخ ته یې ورسیږي

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: مور له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو چې یو ناڅاپي غږ یې تر غوږه شو، نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «آیا پوهیږئ چې دا څه دي» وایي: مور وویل چې الله او رسول یې ښه پوهیږي، ویې فرمایل: «دا یوه تیره ده چې اویا کاله مخکې دوزخ ته ورګوزاره شوې وه، نو دا دی اوس په اور کې غورځیږي تر دې چې بیخ ته یې ورسیږي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ربړوونکی اواز واورېد لکه یو څه چې راپرېوځي، نو د ورسره ناستو صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه یې د نومورې غږ په اړه پوښتنه وکړه، هغوی وویل: الله او رسول یې ښه پوهیږی. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته وفرمایل: دا آواز چې تاسو واورېده د هغې ډبرې دی چې اویا کاله مخکې د دوزخ له څنډې خویه شوې وه، نو همداسې ور روانه وه او ورلویده، تر دې چې اوس یې بیخ ته ورسیده چې تاسو یې غږ واوریده.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3370